د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۰۰ مه گڼه • پنجشنبه • د تله ۱۱مه • ۱۳۹۸



۶

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت او د افغانستان بانک تر منځ د مقطعي پانګې د انتقال په موخه توافق لیک لاسلیک شو



۴

په تخار کې د ۲۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې سترې شبکې د جوړولو چارې پیل شوې



۵

په کاپیسا کې د ۶۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷.۸۳ کیلومتره سړک تړون لاسلیک شو

# جریان کار اعمار ۱۲ باب مکتب در یک هفته‌ی گذشته

۱۱ میزان ۱۳۹۸

کار ساخت ۱۲ باب مکتب زیر چتر پروژه‌ی اقرای برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در هفت ولایت کشور جریان دارد.

این مکاتب که در ولسوالی استالف ولایت کابل، ولسوالی‌های بلخ و خلم ولایت بلخ، ولسوالی شینوار ولایت ننگرهار، ولسوالی‌های ارغنداب، تخته پل و میوند ولایت کندهار، ولسوالی گربز ولایت خوست، ولسوالی خان آباد ولایت کندز و ولسوالی جوند ولایت بادغیس ساخته می‌شوند دارای ۱۲، ۱۰، ۸، ٦ ویا ٤ صنف درسی، تشناب و چاه‌های آب آشامیدنی می‌باشند.

در جریان کار این پروژه‌ها بیش از بیست هزار روز کاری ایجاد شده و با تکمیل کار آن‌ها برای فرزندان حدود چهار هزار خانواده زمینه‌ی فراگیری علم و دانش در فضای سالم درسی فراهم خواهد شد.











# په ننګرهار کې د ٦٦ میلیونه افغانیو په ارزښت ٦٦ جوماتونه جوړېږي

۷/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغاونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د ننګرهار ولایت په غني خیلو، سپین غر، کوټ، اچین، هسکه مینه، دوربابا او نازیانو ولسوالیو کې د ٦٦ میلیونه افغانیو په لګښت ٦٦ جوماتونه جوړېږي چې د لومړي بیلګې په توګه د عبدالجلیل میران کلي کې د یوه جومات د بنسټ ډبره کیښودل شوه. دا جوماتونه به په راروانو ٥ میاشتو کې بشپړ شي.

# په ننګرهار ولایت کې د ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ٤ پرمختیایي پروژو تړونونه لاسلیک شول

۸/ تله/ ۱۳۹۸

د ننګرهار ولایت په دور بابا، سره رود او اچین ولسوالیو کې د یاد ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست له اړوندو پرمختیایي شوراګانو سره د ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د ٤ پرمختیایي پروژو تړونونه لاسلیک کړل. ٤٦٠ متره کانال او د اوبه خور سربند، د ٥ کیلو مترو په اوږدوالي د اوبو رسونې د یوې شبکې ترمیم او یوه بله پرمختیایي پروژه له دې پروژو دي چې په پلي کیدو سره به سلګونه وګړي د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړي او لسګونه جریبه کرنیزه ځمکه به په اوبو خړوبه شي.





# په تخار کې د ۲۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې سترې شبکې د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/تلې/۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لوري د تخار ولایت په بنګي او اشکمش په ولسوالیو کې د اوبو رسولو د یوې شبکې چارې د ۲۲۹ میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شوې.

دا شبکه د ٦۸ ذخیرو په مټ د خوجه بند کشا چینې څخه د ۹۰ کیلومترو په اوږدوالي د څښاک اوبه د بنګي او اشمکش ولسوالیو بېلابېلو کلیو ته رسوي.

د دې پروژې په کاري بهیر کې ۲۰ زره کاري ورځې رامنځته کېږي او ۷٦٥۹ کورنیو ته به د څښاک اوبه برابروي.



# په کاپیسا کې د ٦٣ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷.۸۳ کیلومتره سړک تړون لاسلیک شو

۹/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لارجوړونې د پروګرام له لوري د کاپیسا ولایت په ملا رسول بابا، تاج محمد خیلو، محمد عمرخیلو او تپه زار کلیو کې چې د مرکز او د کوهستان د حصه اول او حصه دوم ولسوالیو اړوند دي. د ٦٣ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷.۸۳ کیلومتره کانکریټي سړک او اړوندو ودانیزو برخو جوړولو تړون د یاد ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا د رییس او اړوندو پرمختیایي شوراګانو تر منځ لاسلیک شو.

# د لغمان ولایت په علینګار ولسوالۍ کې د ٤ کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/۷/۱۰

د لغمان ولایت د علینګار ولسوالۍ د نورولام صاحب د درې د سنګراک په سیمه کې د ٤ کیلومتره سړک د جوړولو چارې، د لغمان ولایت د کلیو بیا رغونې اوپراختیا ریاست په تخنیکي همکارۍ، د خوراک نړیوال سازمان (WFP) په مالي لګښت، چې د کار په مقابل غذا ورکوي، پیل شوې.

د سړک یاده پروژه (RRDPO) قراردادي انجیو له لوري د شپږو میاشتو په موده کې جوړیږي، چې په بشپړیدوسره به د سیمې ډېرو اوسیدونکو ته د تګ او راتګ اسانتیاوې برابرې کړي او د یادې پروژې په کاري بهیر کې به ۳۱۵ تنو کارګرانو ته د کارزمینه هم برابریږي.





# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت او د افغانستان بانک تر منځ د مقطعي پانګې د انتقال په موخه توافق لیک لاسلیک شو

۱۳۹۸ – تله – ۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت او د افغانستان بانک تر منځ د ۳٦مېلیونو ډالرو په ارزښت د «مقطعي پانګې» یو توافق لیک لاسلیک شو.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر مجیب الرحمن کریمي د دې توافقنامې د لاسلیک پر مهال وویل: «د دې توافقنامې په پایله کې به د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام WEERDP له لوري په انتخاب شویو کلیو کې د پور او سپما کلیوالي اتحادیو ته بانکي حسابونه پرانیستل شي؛ د دې حسابونو شمېر ۵۰۰۰ ته رسېږي، چې د دې

اکاونټونو له لارې به ۳٦میلیونه ډالر د بلاعوضه مرستو په توګه ۳٤ ولایتونو ته انتقال شي.»

د افغانستان بانک سرپرست رییس ښاغلي عتیق نوشیر د توافق لیک د لاسلیک پر مهال وویل:

«دا توافق لیک د دوه اړخیزو مرستو لپاره لاسلیک کېږي، چې عمده ګټه یې د کلیوالو مالي علم یا Financial literacy لوړول دي.»

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام تمه لري، چې د دې توافق لیک په لاسلیکولو سره وکولای شي چې د پروګرام هغه هدف چې په کلیوالي سیمو کې د بې وزله مېرمنو اقتصادي او ټولنیزه کچه لوړول دي، لاسته راوړي او د هېواد په اقتصادي پرمختیا کې رغنده رول ولري.










# په تیرو ٤ کلونو کې په لوګر کې د ۲۱۳ میلیونه افغانیو په لګښت ۳۹ پرمختیایي پروژې پلې شوي

۱۱/ تله/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمیزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له ۲۰۱۵ م کال راهیسې د لوګر ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کې د ۲۱۳ میلیونه افغانیو په لګښت ۳۹ پرمختیایي پروژې پلې کړې دي. چې له دې ټولګې ۲۵ پروژې بشپړې شوي او د ١٤ نورو کار روان دي. ددې پروژو په ترڅ کې ١٠٤ زره او ٦٧٩ کاري ورځې رامنځ ته شوي او ۸۰ زره او ١٦٩ وګړو ته یې ګټه رسیږي. استنادي دیوالونه، کانالونه، د اوبه خور سربندونه، ترانسپورتي پلونه او سرکونه جوړول له دې پروژو دي.

ددې پروژو په پلي کولو سره د سیمیزو خلکو د ټولنیز ژوندانه او اقتصاد په بیلو برخو کې پام وړ او ګټور بدلونونه رامنځ ته شوي دي.



# په تيرو ٤ کلونو کې په خوست کې د ٤٥١ ميليونه افغانيو په ارزښت ٦٠ پرمختيايي پروژې پلې شوي

۱۱/ تله/ ۱۳۹۸

د کليو د بيا رغونې او پرمختيا وزارت سيمه ييز پروګرام له ۲۰۱۵ زېږديځ کال را پديخوا د ٤٥٠،٩٦٨،٥٥٨ افغانيو په ارزښت ٦٠ عام المنفعه پروژې د خوست ولايت په بيلابيلو سيمو کې تطبيق کړي چې ۲۷ دغه پروژې بشپړې او ۳۳ نورې يې د بشپړيدو په حال کې دي. د دغو پروژو په لړ کې چې ٤٦ يې له ملي بوديجې، ۱۳ يې د نړيوال آسيايي بانک او ۱ يې د هند له لوري تمويل شوې ١٤٥،٥٢٧ کاري ورځې رامنځته او ۲۲٥،۷۷۰ ځايي اوسيدونکي لدغو پروژو هر اړخيزه ګټه پورته کوي. د دغو پروژو د تطبيق پر مهال استنادي ديوالونه، د اوبو لګولو سربندونه او کانالونه، ټرانسپورټي پلونه، د عامه خدمتونو وداني، ښوونځي، قير او کانکريټي سړکونه جوړ شويدي. د يادونې وړ ده چې دغو پروژو د ځايي اوسيدونکو د ټولنيز ژوندانه په بيلابيلو اړخونو کې د پام وړ مثبت اغيز شيندلي دي.